## په ماته شوې اروپا کې د لیبرال ډیموکراسۍ د دفاع لپاره د فرانسې وروستی غشی

**خبر:**

د فرانســـې جمهور رییس مکرون د جمهوري ارزښــــتونو د پلي کېدو تر چتر لاندې د اســـلامي نړۍ مشرانو ته ګواښ کړی.

**تبصره:**

د اسلام او مسلمانانو پر ضد د فرانسې کرکه ښکاره حقیقت دی او په ډېرو برخو کې ترسترګو کېږي. له مسلمانانو سره د فرانسې د دښمنۍ اور د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د نازي المان له عامه وژنې سره ورته والی لري؛ چې میلیونونه بې ګناه کسان، په ځانګړې توګه یهودان پکې ووژل شول. دوی هر وخت دا ډول فاسد سیاستونه مخ ته وړي او دا سې کړنې هر کال په ډېرو اروپایي هېوادونو کې (دوی اکثریت نه دي) تر سر لیک لاندې لمانځل کېږي چې اساسي مخاطبین یې مسلمانان دي.

د مسلمانانو پر وړاندې د فرانسې فاسد او ظالمانه سیاستونه زموږ له سترګو پټ نه دي او هر وخت یې را سپړو. د دغو ظالمانه سیاستونو له ډلې یو یې د فرانسې د ولسمشر له لوري پر اسلام برید دی چې ویې ویل: «اسلام په بحران کې دی او په دې سره یې په فرانسه کې مېشت مسلمانان او د نورو اسلامي هېوادونو اوسېدونکي خپل دښمنان کړل؛ ځکه مکرون په یادو څرګندونو سره د مسلمانانو پر عقیده برید وکړ. د فرانسې ولسمشر نه یوازې دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سپکاوي کوونکو دفاع یې وکړه، بلکې پر دې یې هم بسنه ونه کړه او په دولتي ودانیو کې یې د محبوب رسـول الله صـلی الله علیه وسلم د کارتون خپرولو د طرحې جرات وکړ.

په فرانسه کې ډېری اسلامي سازمانونه او جوماتونه تړل شوي دي. مسلمانانو ته "بېلتون غوښتونکي" ویل کېږي. حتی د ښـوونځي ماشـومان نیول شـوي او د مجرمینو غوندې چلند ورسـره کېږي؛ ځکه چې دوی د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم له سـپکاوي په ډکو کارتونونو ناخوښـي څرګنده کړه. اوس دوی غواړي چې دغه فشارونه نور هم وغځوي او ماشومانو ته یې د پېژندنې شمېرې ورکړي. همدارنګه په دې سره دوی تعقیب کړي او د هغوی د "کور زده کړې" محدودې کړي. په دغه هېواد کې د مسـجدونو امامان باید راجسټر شـي او مسـلمانان اجازه نه لري چې سیاسـي فعالیتونه وکړي. د فرانسـې د کورنیو چارو وزیر دارمانین اعلان وکړ: هغه والدین، چې د کارتونونو په اړه شـــکایت کوي، د جنایي اعمالو لپاره به محاکمه شــــي او حتی له دندې او هېواده څخه به وشـــړل شــــي. همدارنګه د والدینو له خوا د "تدریسي توکو" په اړه شکایتونه، چې د دوی ماشومانو ته ورکول کېږي، جنایي جرم بلل کېږي.

د اسلامي نړۍ تش په نوم مشرانو ته د فرانسې له خوا ۱۵ ورځې وخت ورکړل شوی چې په دې موده کې باید داســي اعلامیه خپره کړي: «مســلمانان په فرانســه کې هر ډول بهرنۍ لاسـوهنه ردوي او له اسلامي امت څخه یې جلا بولي.»

دا د فرانســې او فرانســوي چارواکو له لوري د ظلم څو بېلګې او هلته د تېرېدونکو پېښــو لنډیز و چې وړاندې شـو، خو که د دوی ظالمانه سـیاسـتونو او دروغجنو ادعاوو ته ژور نظر وکړو، په اسـانۍ دې پایلې ته رسېږو چې د دوی کړنې څومره له دښمنۍ ډکې او فاسدې دي.

دا په داسې حال کې ده چې سېکولریزم له یوې خوا د خپلواکۍ او آزادۍ چغې وهي او له بل پلوه ظلم او جبر ته دوام ورکوي، چې دا د عقل او حکمت نښــــه نه ده، بلکې د ذهني خرابۍ او د ســـېکولریزم تنګ لاسي په ډاګه کوي.

په هر صـــورت، کوم څه چې په بشـــپړ ډول حیرانوونکي دي، هغه دا دي چې هېڅ غربي هېواد په لږه توګه هم فرانسوي کړنې ونه غندلې. دلته زما مطلب دا نه دی چې ولې دوی د مظلومانو غږ نه اوري او ولې يې دفاع نه کوي؟ بلکې زما مطلب دا دی چې هېڅ غربي هېواد په رسمي ډول د فرانسې کړنې ونه غندلې او نه يې هم تایید کړې، ځکه چې دوی مشترک قانون، اصول، باورونه او ګټې لري.

د دوی دا ډول ګډ احســاس، مســولیت او ژمنې کړنې د ډیموکراســۍ مفســدوالی او کمزوري په ډاګوي. مسلمانانو پر دې باور نه درلود، خو اوس سېکولران هم دا احساسوي چې ډیموکراسي د باور وړ حل لاره نه ده.

د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر

اوکې پالا

په نیدرلینډ کې د حزب التحریر د رسنیو استازی